شاه‌ولي ارين

۲۰۲۶/۰۱/۱۲

# نړۍ د انارشيزم او زورواکۍ په لور

## (لومړۍ برخه)

يوه ټولنه او نړۍ هغه وخت په منظم او هوسا توګه ژوند او پرمختګ کولای شي چې ټولنيز اصول او قوانين ولري او د منل شوو قوانينو او ميثاقونو درناوی وشي.

د نړيوالو جګړو تر مخه په نړۍ کې نړيوالو استعماري سياستونو، زورزياتيو، بشري ناورينونو، نړۍ او ولسونه دې ته اړويستل تر څو نړيوال اصول او قوانين د بشري اسانتياوواو حقونو د رعايت په خاطرجوړ، طرح او رامنځته کړي.

د ملګرو ملتونو د جوړېدو اصلي لامل په نړۍ کې د سولې او ثبات ټينګښت او د جګړو مخنيوی و؛ د ملګرو ملتونو له اوسني سازمان وړاندې د ملتونو ټولنه وه د جوړېدو يوه موخه يې د لومړۍ نړيوالې جګړې په څير د خونړيو جګړو مخنيوی و.

دا د امريکا د هغه وخت د ولسمشر وډرو ويلسن په غوښتنه جوړه شوه، خو دا ټولنه و نه توانېده چې په نړۍ کې د نورو بحرانونو مخه ونيسي.

دې ټولنې و نه کړای شول چې د دويمې نړيوالې جګړې مخه ونيسي؛ د دې ټولنې د ناکامۍ يو مهم لامل د امريکا نه ملاتړ و.

له دويمې نړيوالې جګړې وروسته د ملګرو ملتونو اوسنی سازمان د هماغو موخو له پاره جوړ شو؛ دغه سازمان د نورو تر څنګ په نړۍ کې د بشر د حقونو ملاتړ هم کوي.

له ۲۰۰۶ ميلادي کال وروسته د ملګرو ملتونو د بشر د حقونو کميټه د بشر د حقونو په شورا بدله شوه؛ دغه شورا ۴۷ غړي لري چې د دريو کلونو له پاره ټاکل کيږي؛ امريکا د ملګرو ملتونو يو لوی بسپنه ورکوونکی هيواد دی؛ امريکا ځان په نړۍ کې د بشر د حقونو او ديموکراسۍ لوی ملاتړی او مبلغ هيواد ګڼي.

په ملګرو ملتونو کې د امريکا او نورو لويديځو هيوادونو نفوذ ډير زور دی؛ د امنيت شورا له پينځو څخه درې يې د يو ليد لوري او په ډيرو برخو کې همنظره دي.

امريکا، انګلستان او فرانسه د امنيت شورا دايمي غړي دي او د هيوادونو په برخليک د لوبې کولو له پاره دوي هره وسله کاروي.

د بشر حقوق او ديموکراسي د امريکا او لويديځو هيوادونو نرم ځواک دی چې پر بنسټ يې دوی نورو هيوادونو سره دښمني کوي او هغه هيوادونه چې د دوی فرمايشات نه مني، نو د بشر له حقونو په سرغړونې او ديموکراسۍ په نه پلي کولو يې تورنوي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

بشري حقوق او ديموکراسي د لويديځو هيوادونو هغه دام دی چي آن د نړۍ د ځينو زورورو هيوادونو له پاره يې ږدي او استفاده ترې کوي.

بې وزله او په سياسي، اقتصادي او نظامي لحاظ کمزوري هيوادونه په ډيرې اسانۍ په دغه دام کې نښلي او د خپلو ستونزو د حل له پاره د لويديځو هيوادونو هر فرمايش ته غاړه ږدي او لويديځ هيوادونه يې له مجبوريتونو څخه په ګټې اخيستني خپل غلامان او د يو نيابتي هيواد په توګه يې د خپلو دښمنانو پر ضد کاروي.

### د بشري حقونو نړيوال قانون

د بشري حقونو نړيوال قانون د نړيوال قانون هغه برخه ده چي په ټولنيزې، منطقوي او داخلي برخو کې د بشري حقونو د ودې په موخه وضع شوی دی. د نړيوال قانون د برخې په توګه د بشري حقونو نړيوال قانون د هغو هوکړو او موافقو پايله ده چي د خپلواکو دولتونو ترمنځ ترسره شوي او موخه يې هم دا وه چي د هوکړې په لورو او همدارنګه په عرفي نړيوالو قوانينو اغيز وکړي. د بشري حقونو نور نړيوال اسناد په داسي حال کې چي له قانوني پلوه الزامي بڼه نه لري د بشري حقونو د نړيوال قانون له پلي کېدو، درک او پراختيا سره مرسته کوي او د سياسي ژمنو د منابعو په توګه پېژندل کيږي.

د بشري حقونو د نړيوال قانون او د بشرپالونکو نړيوالو حقوقو ترمنځ اړيکه د نړيوالو قوانينو د پوهانو د بحث موضوع جوړوي. دغه بحث د بين المللي حقونو د پراختيا له لوی بحث څخه سرچينه اخلي. په داسي حال کې چي يو شمېر کثرت ګرا پوهان د بشري حقونو نړيوال قانون له بشرپالونکو نړيوالو حقوقو جلا بولي، خو د مشروطه غوښتونکي چلن پلويان بيا دويم د لومړي فرعي برخه بولي. په لنډه توګه هغه چي د جلا او خپلواکو رژيمونو ملاتړي دي د دغو په کارونو کې په توپيرونو ټينګار کوي؛ بشر پالونکي نړيوال حقوق يوازې د وسله والې جګړې پر مهال پلي کيږي.

### د ملګرو ملتونو سيستم:

د ملګرو ملتونو عمومي اسمبلۍ په ۱۹۹۳ زکال کې د ويانا اعلاميه او د هغو د عمل پلان تصويب کړ چي له مخې يې د بشري حقونو عالي کميشنري تاسيس شوه.

په ۲۰۰۶ زکال کې د ملګرو ملتونو د بشري حقونو کميسيون د بشري حقونو د نړيوالو قوانينو د پلي کولو په موخه د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د شورا ځای ونيو. دغه سازماني بدلون د ډېرو تنظيماتو په لرلو سره په هرو څلورو کلونو کې د بشري حقونو د دوسيو د څېړونو د الزام وړاندوينه کوي. د ملګرو ملتونو د تل پاتې پراختيا ۱۰ موخې هم د نابرابرۍ د له منځه وړو په موخه د قوانينو او پاليسيو د ترويج موخه لري.

### د بشري حقونو نړيوال منشور
### د بشري حقونو نړيواله اعلاميه:

د بشري حقونو نړيواله اعلاميه (Universal Declaration of Human Rights) د ملګرو ملتونو د عمومي اسمبلۍ هغه پرېکړه ليک دی چي د بشري حقونو د نړيوالو قوانينو په اړه کې الزام نه رامنځته کوي. د حقوقو ډېرې څېړونکي دغه اعلاميه د بين المللي عرفي قوانينو لپاره د يو سند په توګه يادوي.

له دې سربېره UDHR د بشري حقونو په معتبرې منبع اوښتی. دغه سند د بشري حقونو د راتلونکو نړيوالو غير الزامي اسنادو لپاره بنسټ جوړ کړ چي له امله يې د بشري حقونو د نړيوال قانون معتبره سرچينه ګڼل کيږي.
د بشري حقونو نړيوالې هوکړې:

په ۱۹۶۶ زکال کې د دوه پراخو ميثاقونو (يعني د سياسي او مدني حقونو نړيوال ميثاق او د اقتصادي، ټولنيزو او کلتوري حقونو نړيوال ميثاق) په تصويب سره چي د بشري حقونو د نړيوالې لايحې برخه جوړوي، په نړيواله کچه نورې هوکړې هم تصويب شوې دي چي په ټوليزه توګه د بشري حقونو د اسنادو په توګه په پام کې نيول کيږي چي د دغو هوکړو يو شمېر مهمې يې دا دي:

د نسل وژنې څخه د مخنيوي او هغو ته د جزا ورکولو کنوانسيون (CPCG) په ۱۹۴۸ زکال کې تصويب شو او په ۱۹۵۱ کې يې اجرايوي بڼه ومونده).


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

د کډوالو وضعیت ته اړوند کنوانسیون) (CSR) په ۱۹۵۱ زکال کې تصویب شو او په ۱۹۵۴ زکال کې یې اجرایوي بڼه ومونده).

د هر ډول نژادي تبعیض د له منځه وړو نړیواله هوکړه) (CERD) په ۱۹۶۵ زکال کې تصویب شوه او په ۱۹۶۹ زکال کې یې اجرایوي بڼه ومونده)

د ښځو پر وړاندې د هر ډول تبعیض د له منځه وړو کنوانسیون) (CEDAW) په ۱۹۸۱ زکال کې یې اجرایوي بڼه وموندہ)

د شکنجې پر وړاندې د ملګرو ملتونو کنوانسیون) (CAT) په ۱۹۸۴ زکال کې تصویب شو او په ۱۹۸۷ زکال کې یې اجرایوي بڼه وموندہ)

د ماشومانو د حقونو کنوانسیون) (CRC) په ۱۹۸۹ زکال کې تصویب شو او په ۱۹۹۰ زکال کې یې اجرایوي بڼه وموندہ)

د کارګرو کډوالو او د هغوی له کورنیو څخه د ملاتړ نړیوال کنوانسیون) (ICRMW) په ۱۹۹۰ زکال کې تصویب شو او په ۲۰۰۳ زکال کې یې اجرایوي بڼه وموندہ)

د معلولو کسانو د حقونو کنوانسیون) (CRPD) د ۲۰۰۸ زکال د می په ۳ مه یې اجرایوي بڼه وموندہ)
د اجباري ورک کېدو پر وړاندې د ټولو وګړو د خوندیتوب نړیوال کنوانسیون) (ICPPED) په ۲۰۰۶ زکال کې تصویب شو او په ۲۰۱۰ زکال کې یې اجرایوي بڼه وموندہ).

**سیمه ئیز خوندیتوب او بنسټونه:**

د بشري حقونو د نړیوال قانون متمم او بشړونکي سیمه ئیز سیستمونه د نړۍ په ځانګړو برخو کې له بشري حقونو څخه په ملاتړ او د هغو په ودې سره د بشري حقونو نړیوال او ملي قوانین خوندي او ترویج کوي. د بشري حقونو درې مهم نړیوال اسناد شتون لري چې د سیمو پر بنسټ یې د بشري حقونو قوانین رامنځته کړي:

په ۱۹۸۱ زکال کې د افریقا لپاره د بشري او وګړیزو حقونو افریقایي منشور چې له ۱۹۸۶ زکال څخه یې اجرایوي بڼه وموندہ.

په ۱۹۶۹ زکال کې د امریکا لپاره د بشري حقونو امریکایي کنوانسیون چې له ۱۹۷۸ زکال څخه یې اجرایوي بڼه وموندہ.

په ۱۹۵۰ زکال کې د اروپا لپاره د بشري حقونو اروپایي کنوانسیون چې له ۱۹۵۰ زکال وروسته یې اجرایوي بڼه موندلې ده.

د امریکایي هېوادونو سازمان او اروپایي شورا د ملګرو ملتونو په څېر یو شمېر هوکړې (البته د کمزوري اجرایوي میکانېزم په لرلو) چې د اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري حقونو نوملړونه په کې راغلي د پورته یادو شوو کنوانسیونونو سربېره چې تر ډېره سیاسي او مدني حقونو ته اړوندېږي؛ تصویب کړې دي:
په ۱۹۶۱ زکال کې د اروپا لپاره اروپایي ټولنیز منشور چې له ۱۹۶۵ زکال راهیسي پلی کېږي (چې د شکایاتو میکانېزم یې په ۱۹۹۵ زکال کې د یو الحاقي پروتوکول په توګه رامنځته شو او له ۱۹۹۸ زکال کې راهیسي پلی کېږي).

په ۱۹۸۸ زکال کې د امریکا لویې وچې لپاره د سان سلواډور پروتوکول یا د بشري حقونو امریکایي کنوانسیون چې په ۱۹۹۹ زکال کې یې اجرایوي بڼه وموندہ.

نوربیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ